# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د غويي ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د مې ۱۱مه | ۵۳۸ گڼه


# هند ته د طالبانو بې مخينې ډاډ؛

## سهیل شاهین: د هند په گډون له ټولو گاونډیانو سره ښې اړیکې غواړو



۳

### گرځبندیز یوازې اقتصادي ستونزې جوړې کړې

۲ مخ

### دوستم ته د مارشالۍ رتبې د ورکړې گنگوسې؛ پر ملي القابو او رتبو معامله نه بښونکې خیانت

۲ مخ

### په یوه ناکام هیواد کې ژوند؛

۳ مخ

## حقیقت موندونکې پلاوی: له افغان کارگرانو سره د ایراني پوځیانو د وروستي وحشت په اړه کره شواهد ترلاسه شوي

له ایران سره پر گډه پوله د ایراني پوځیانو له خوا هریرود سیند ته د لسگونو افغانانو د غورځولو د پېښې په اړه د حقیقت موندونکي پلاوي مشر ویلي، کره شواهد لري چې دا کسان د ایران په خاوره کې مړه شوي وي.
دا په داسې حال کې ده چې د ایران حکومت په دې پېښه کې د خپلو سرحدي ځواکونو لاس لرل رد کړي او ویلي یې دي چې دا پېښه د افغانستان په خاوره کې شوې ده.
د افغانستان د وسله والو ځواکونو د اعلی قوماندانۍ مشرمفتش جنرال حمید طهماسي چې اوسمهال په هرات کې دی، رسنیو ته ویلي چې د نورو څېړنو لپاره به دغه شواهد له ایراني چارواکو سره شریک کړي.
هغه زیاته کړې: «د دې لپاره چې دا موضوع ثابته شي او موږ ایراني لوري ته د هغو اسنادو په رڼا کې چې لرو یې، قناعت ورکړو چې پېښه د ایران په خاوره کې شوې، خبرو او د اسنادو او معلوماتو سپارلو ته اړتیا شته».
د یادونې ده چې د طهماسي په مشرۍ پلاوي د هغو راپورونو په اړه څېړنې پیل کړې چې د مې په لومړۍ نېټه ایراني پوځیانو شاوخوا پنځوس تنه افغانان چې غوښتل یې په ناقانونه ډول ایران ته ولاړ شي، نیولي او له وهلو ټکولو وروسته یې د ایران په اړونده ذوالفقار سیمه کې هریرود سیند ته غورځولي دي.
د ایران دغه کار په کور دننه او بهر د او د بشري حقونو د مدافع بنسټونو پراخ غبرگونونه راوپارول او په دې اړه یې د جدي پلټنو غوښتنې وکړې.

## روان وضعیت ته په کتو، بنايي سږکال د حج مراسم ترسره نه شي



۵ مخ




### هیواد


۴ مخ


## منگولیا

د منگولیا ۳۵ سلنه خلک د کرنې او مالدارۍ پر چارو بوخت دي او د دغه هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکتور څخه لاسته راځي.



## کرنې وزارت: په فراه ولایت کې د تازه مېوو د ساتنې په موخه سلگونه سړې خونې جوړېږي



د کرنې وزارت چارواکي وايي، په فراه ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژو د پلي کېدو چارې په دغه ولایت کې د لومړنۍ ممیزخونې د بنسټ ډبرې په اېښودو سره پیل شوې.
چارواکو ویلي چې په دغه ولایت کې به د یاد پروگرام له مخې، سلگونه سړې خونې، ممیز خونې او د پیازو او کچالیو د ساتلو زرگونه زېرمتونه جوړ شي.
د فراه ولایت بڼوالو او بزگرانو هم د دغو پروژو په پلي د خوښۍ ترڅنگ وایي چې په دې سره به یې د کاروبار په پراختیا او د اقتصادي ودې په برخه کې مثبت بدلونونه راشي.
د یادونې ده چې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د برنامې پروژې چې پلي کېږي، د بڼوالو او بزگرانو ملکیت دی.
چارواکي وايي، هغه بڼوال او بزگر چې غواړي یاد بنسټونه ورته جوړ شي، یوازې د جوړولو ۱۰ سلنه لگښت یې ورکوي او پاتې ۹۰ سلنه نور لگښت یې د کرنې وزارت ورکوي.

## کمیسیون مستقل حقوق‌بشر: افزایش تلفات غیرنظامیان در جنگ های اخیر نگران کننده است



کمیسیون مستقل حقوق‌بشر افغانستان، افزایش تلفات غیرنظامیان را در جنگ ها میان نیروهای دولتی و طالبان نگران کننده می‌داند.
این کمیسیون می‌گوید که دوام خشونت‌ها و تلفات غیرنظامیان در ماه رمضان پذیرفتنی نیست. بربنیاد گزارش کمیسیون حقوق‌بشر، در ده روز نخست ماه رمضان بیش از ۴۰ غیرنظامی در جنگ ها جان باخته‌اند.
نعیم نظری، معاون کمیسیون مستقل حقوق‌بشر گفت: «در ده روز اول ماه مبارک رمضان ۱۱٦ نفر از افراد ملکی کشته و زخمی شدند و ما سخت نگران این وضعیت استیم.»
در همین حال، دفتر شورای امنیت ملی می گوید که در هفته دوم ماه رمضان ۲۸ ولایت کشور گواه حمله‌های طالبان بودند و در این حمله‌ها ۲۵ غیرنظامی جان باختنه‌اند و بیش از ۷۰ تن دیگر زخم برداشته‌اند. اما طالبان این ادعا را رد کرده‌اند.
بربنیاد یافته‌های شورای امنیت ملی حمله‌های طالبان در هفته دوم ماه رمضان در مقایسه به هفته نخست این ماه رمضان ۳۳ درصد افزایش یافته‌اند.
جاوید فیصل، سخن‌گوی دفتر شورای امنیت ملی گفت: «در هفته دوم ماه مبارک رمضان هم طالبان به افغان کشی شان ادامه دادند که در نتیجه ۲۵ تن از افراد ملکی جان باختند و ۷۴ تن دیگر زخم برداشتند. این در مقایسه با هفته اول این ماه ۳۳ درصد افزایش یافته و نشان می‌دهد که طالبان به جان غیرنظامیان احترام ندارند.»




## دريځ

### ګرځبنديز يوازې اقتصادي ستونزې جوړې کړي

په افغانستان کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر نږدې څلور نيمو زرو ته ورسېد او پرون د عامې روغتيا وزارت وويل چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۳۶۱ مثبتې پېښې ثبت شوې دي. اټکل دی چې تر دې ېبخي ډېر خلک به پر کرونا اخته وي چې يا خو روغتونو ته نه ورځي او يا هم روغتونونه د ظرفيت د نشتوالي له امله پر وخت د هغوی معاينه نه شي کولی. چارواکي وايي چې ثبت شوې شمېرې ښيي چې ۱۲۰ کسان د دې ناروغۍ له امله مړه شوي هم دي.

عامې روغتيا وزارت لا هم خطر جدي ګڼي، د کرنتين د دوام او ټينګولو غوښتنه کوي او وايي چې که حالت همداسې دوام وکړي، فاجعه به رامنځ ته شي. د عامې روغتيا وزارت له دغو خبرداريو سره سره، تر اوسه پورې کرنتين يا له منځه ځي او يا هم کمزوری شوی دی. په کندوز، ننګرهار او بلخ کې کرنتين مات شوی، خو په کابل او ځينو نورو ښارونو کې يوازې د کرنتين نوم پاتې دی. يوازې رسمي رخصتي شته، خو په عملي ژوند کې خلک په بازارونو او د ګڼې ګوڼې په ډکو سيمو کې ګرځي. يوه برخه خلک به داسې وي چې اړ وي، د باندې ووځي او کاروبار وکړي، خو ډېری داسې کسان هم کرنتين ماتوي او د باندې ګرځي، چې جدي اړتيا نه لري. له همدې امله کرنتين مات شوی. داسې ښکاري چې حکومت هم نور نه غواړي کرنتين دوام وکړي، پر دې اساس يې قيودات کم کړي او پرېږدي چې خلک ازاد وګرځي.

کرنتين له يوه اړخه بې مانا شوی او د کرونا په مخنيوي کې کوم رول نه لري او له بله اړخه يې کاروبار خراب کړی چې له امله يې هره ورځ زموږ اقتصاد خرابيږي. د سوداګرۍ خونو مسوولين وايي چې په تېرو دوو مياشتو کې د کرنتين له امله خصوصي سکټور او د افغانستان اقتصاد ته تر يو نيم ميليارد ډالرو زيان رسېدلی دی. اوس که حالت همداسې دوام وکړي، کرونا به همداسې خپرېږي او ورسره به زموږ اقتصاد هم له پښو غورځيږي. پکار ده چې حکومت په دې برخه کې ناغېړي ونه کړي. يا خو دې کرنتين سم عملي کړي، په ګرځېدو دې سم بنديز ولګوي او له جدي اړتيا پرته دې هېڅ د ګرځېدو اجازه نه ورکوي، څو د کرونا په مخنيوي کې اغېزناک ثابت شي. يا دې هم کرنتين مات کړي، رخصتي دې ختمه کړي او کاروبار ته دې اجازه ورکړي. البته د کرنتين له ماتولو سره سره دې د تدابيرو مسئله جدي وګڼي. يعنې هم بايد کاروبار روان وي، څو اقتصادي څرخ ببرته وګرځي او کاروبار پيل شي او هم دې خلک له کار سره يو ځای شونی تدابير مراعات کړي. په دې سره به زموږ يوه ستونزه حل شوې وي. اوس خو نه د کرونا سمه مخه نيول کېږي او نه هم کرنتين يو مخ ماتيږي چې کاروبار پيل شي او ژوند روان شي.

په دې برخه کې د دولت بې تفاوتي او بې مانا تګلارې د خلکو ستونزو زياتوي. حکومت بايد ژر تر ژره يا ګرځبنديز او کرنيتن سم عملي کړي او يا دې هم خلکو ته يو مخ اجازه ورکړي چې کاروبار پيل کړي او اقتصادي څرخ ببرته فعال کړي.

## دوستم ته د مارشالۍ رتبې د ورکړې ګنګوسې؛

# پر ملي القابو او رتبو معامله نه بښونکې خيانت دی!



ليکنه: قاضي نجيب الله جامع

له زياتو ټاکنيزو ناندريو، سياسي کشمکشونو او فشارونو وروسته، بالاخره ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله د يوه نسبي بين الافغاني ډيالوک په هڅه کې د يوه بل ګډ حکومت پر جوړولو سره سلا شوي دي.

ولس خوښ دی او تمه لري چې دغه سياسي جوړجاړی يوځل بيا د ملي يووالي د دوه سري حکومت ترخې تجربې تکرار نه کړي او تر ډېره سولې ته، چې د افغان ملت ملي لومړيتوب، ولسي غوښتنه او يوازينۍ هيله ده، کار وکړي. له پخوانيو تېروتنو عبرت واخلي، پر خپل ولس تکيه ولري او سولې ته د رسېدو له لارې د يوه پر امن، يوه او بل زغمونکي، سيال او يوموټي افغانستان بنسټونه رامنځته او د پايښت شلېدونکې مرانديې يې ټينګې کړي.

خو پر دغو ټولو خوشبينيو سربېره، يوشمېر انديښنې هم شته چې دواړه ډاکتران بايد له دغه تاريخي اشتباه څخه ځان وساتي. پر هغه معامله؛ د ولس سرو کرښو ته سپکاوی، د بشري ارزښتونو ترپښو لاندې کول او په ټوله کې يو نه زغمونکی خيانت او معامله ده چې له دغو انديښنو څخه يوه هم جنرال دوستم ته د مارشالۍ لقب يا رتبې ورکړه ده.

موږ که څه هم د افغانستان ټول قومونه د خپل وجود نه بېلېدونکېبرخه ګڼو، د هغوی وجود د يوه ځواکمن افغانستان لپاره حتمي شرط بولو، د هغوی سربښندنې او له ګران وطن سره د مينې او ژمنتيا ريښې يې د افغان وطن د ثبات او پايښت بنسټونه بولو او بالاخره هېڅوک د افغانستان هېڅ با شرف قوم د واحد افغان وطن له وجود څخه نشي شکولای.

پر همدې بنسټ د قومونو مسئله او د بهرنيو جواسيسو حساب سره بېل دی، هېڅ قوم د قومونو د سوداګرۍ دوکاندارانو ته کله هم د دغه عزتمندو قومونو او قبيلو د استازولۍ جواز نه دی ورکړی او موږ ته د تاجک شرف، د ازبک عزت، د پښتون هويت او د هزاره افغان حيثيت د متحد، پر ځان بسيا او ځواکمن افغانستان په مانا دی.

پر دې بنسټ زموږ ليدلوری د دغو ناروغيو څخه پاک او ډاکتر غني او عبدالله که په دغه بنسټ د دوستم په څېر بدنامو، د زرګونو افغانانو قاتلانو، د حکومت او نظام سره د بد عهدۍ بېلګو او د ازبک د درانه قوم څخه پردو ته د مارشالۍ دا ملي او معنوي رتبه يا سياسي امتياز ورکوي، له هېڅ اړخه د منلو، توجيه او حتی د مارشالۍ سياسي ـ ملي امتياز ته سپکاوی دی.

دا ځکه چې مارشال هغه څوک دی چې د يوه ملت په ګټه يې يوه برخليک ټاکونکې بهرنۍ جګړه رهبري کړې او ګټلې وي، هغه چې دغه بهرنۍ جګړه د بهرني يرغل او اشغال پر وړاندې د يوه آزاد او ژوندي ملت د دريځ په موخه رامنځته شوې وي.

مارشال بايد په دغسې جګړه کې ملي ژمنتيا ولري، ټولمنلی شخصيت ولري، د جګړې هنر او يوه ځواکمن ستراتېژيست وي، مارشال يعنی د فکرونو جوړوونکی، د جګړې د لومړۍ کرښې قوماندان، ريښتونی ملي مبارز او په ټوله کې د يوه ملت سياسي آزادۍ او ملي وجود ته متعهد او د بهرني يرغل او اشغال پر وړاندې د ملي دريځ اصلي او پرېکړه کوونکی طرف وي.

هغه چې د دغه ډول شخصيت يوازينۍ بېلګه مارشال ځوکوف و. هغه په لومړۍ نړيواله جګړه کې يو ځوان مبارز و، د روسيې او جاپان په جګړو کې قوماندان و، هغه د فاشيزم د لښکرو پرخلاف يو له نوموتو اتلانو او د دويمې نړيوالې جګړې يو له فاتحو قوماندانانو څخه و. د ځوکوف سرتېرو له فاشيزم څخه د نړۍ د خلاصون بيرغ په برلين کې د هېټلر پر ماڼۍ راځوړند کړ او دويمه نړيواله جګړه يې پای ته ورسوله.

پر همدې بنسټ مارشال او مارشالي يو سياسي امتياز نه، بلکې يو ملي وياړ، مسووليت او امتياز دی، چې ملتونه يې د خپلو دولتونو له لورې خپلو واقعي اتلانو او د ملي نواميسو ساتونکو ته ورکوي.

پر همدې بنسټ موږ د ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله ترمنځ د وروستۍ روغې جوړې او سياسي جوړجاړې هرکلی کوو، د سولې په برخه کې د وطن پر مصلحت يې ګڼو، د ډاکتر عبدالله بيا ـ بيا ځان تېرېدنه د ملي ګټو او د افغان وطن د ملي مصالحو په برخه کې د ستاينې وړ ده، خو دوستم ته د مارشالۍ ورکړه خيانت، اشتباه او د افغان ولس د ارادې سپکاوی ګڼو.

ډاکتر عبدالله او غني دې د قدرت له ونډو څخه ازبک، ترکمن او ټولو قومي لړکيو ته د دوی د ونډې او تناسب پر بنسټ برخه او حتی يوشمېر ځانګړي امتيازات ورکړي، خو مارشالي نه.

ځکه نور بايد د افغان ولس قاتلان ونه ستايل شي، موږ د هر هغه چا سره د عدالت تمه او غوښتنه لرو چې بې ګناه افغانان يې پرته له هېڅ توپيره ځورولي، وژلي او د هغوی کرامت ته يې سپکاوی کړی وي، خو کله چې د دښتې ليلې او جنګي کلا قاتلان دوستم او مالک پهلوان ته د افغانانو د وژلو په تړس کې پر رتبې، واک، څوکۍ او امتيازاتو بدرګه کېږي، دا نو بيا مطلق خيانت دی، هغه چې د دغسې اعزازونو عاملان به خدای ونه بښي، د ملت په نزد به منفور وي او د تاريخ پر وړاندې به مخ تور او سر ټيټي وي.

## روﻻ غني: باوري نه يم چې طالبان دې د سولې خبرې پيل کړي

د ولسمشر غني مېرمنې روﻻ غني وايي باور نه لري چې طالبان دې د سولې خبرې پيل کړي. نوموړې په خپله وروستۍ مرکه کې ويلي دي طالبان افغان وژنې ته ادامه ورکوي او اوس يې له امريکايانو سره هوکړه کړې چې پر دوی به بريدونه نه کوي، خو پر مسلمانو افغانانو ددغه ډلې بريدونه دوام لري. د روﻻ غني په خبره باور نه لري چې طالبان به سوله وکړي او له جګړو به لاس واخلي. هغې ويلي حکومت په ځلونو پر طالبانو د اوربند



غږ کړی دی، خو دغه ډله له بهرنيانو سره اوربند کوي خو د خپلو افغانانو پر وړاندې جګړه غوره بولي. د نوموړې په خبره ((طالبان ﻻ اوس هم بريدونه کوي، ﻻ هم خلک وژني، مسلمانان وژني، امريکايانو سره يې وعده کړې چې امريکايان او بهرنيان به نه وژني، خو ﻻ تراوسه ميرمنې کونډې کيږي، که هغوی ريښتيا غواړي سوله راوړي، حکومت سره دې کښيني، موږ چمتو يو، دوه کاله وشول چې موږ چمتو يو)).

مېرمن روﻻ ويلي طالبان د ريښتينې سولې لپاره بايد له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر شي. د نوموړې په خبره افغان حکومت له طالبانو سره خبرو ته تيار دی او دوه کاله کېږي د مخامخ خبرو غوښتنه کوي.

## د سولې وزارت: يوازې د افغانانو په مشرۍ د سولې په پروسه کې به د ګاونډيانو رول اغېزناک وي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت د افغان سولې لپاره د امريکا د ځانګړي استازي تازه څرګندونو ته په اشارې د سيمې د هېوادونو د رول پر اهميت ټينګار کوي.

دغه وزارت د زلمي خليلزاد له هغې غوښتنې ملاتړ کړی چې د نوې ډيلي او طالبانو د مخامخ خبرو په اړه يې کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له هند غوښتي چې له طالبانو سره مستقيمې خبرې وکړي او په افغان سوله کې پياوړی رول ولوبوي.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وياندې ناجيه انوري ويلي، دا رول به هغه وخت اغېزناک وي چې د سولې خبرې د افغانانو په مالکيت ترسره شي.

نوموړې د ترهګرۍ په اړه د انديښنې د له منځه وړلو په موخه له هند سره د طالبانو د خبرو د غوښتنې په اړه ازادي راډيو ته ويلي: «د افغان سولې په بهير کې د ګاونډيو او د سيمې د هېوادونو رول مهم او اثر لرونکی دی، که د افغان سولې په بهير کې د ګاونډيو دغه رول د افغانستان د دولت او د افغانانو په مالکيت او رهبري ترسره شي، ګټور او مثبت به وي».

دا په داسې حال کې ده چې زلمي خليلزاد هند ته په خپل سفر کې د هغه هېواد له د هندو ورځپاڼې سره په مرکه کې ويلي، له هندي چارواکو سره يې د افغان سولې په بهير کې د نوي ډيلي د ﻻ زيات رول د څرنګوالي په اړه خبرې کړې.

په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين هم ويلي، دوی غواړي د هند په ګډون ټول هېوادونه د طالبانو ډله د يو واقعيت په حيث وپېژني.

# په یوه ناکام هېواد کې ژوند؛

## کرونا ویروس د امریکا له پرله پسې ماتو او ناکامیو پرده پورته کړه

لیکول: **جورج پېکر**
ژباړه: **جواد تیموري**
سرچینه: **دې اتلانتیک**

**وروستۍ برخه:**

ټرمپ د جمهوري غوښتونکي په توګه واک ته ورسېد، خو محافظه کاره سیاسي طبقه او نوې رهبري ډېر ژر په خپلو کې تفاهم ته سره ورسېدل. که څه هم دواړو خواوو په یو شمېر مسایلو لکه، سوداګرۍ او د کډوالو د سیاست په برخه کې له یو او بل سره مخالفتونه درلودل، خو د خپلو شخصي ګټو په پام کې نیولو او خوندیتوب سره یې دغه مخالفتونه له پامه وغورځول. جمهوري غوښتونکو هم غوښتل چې دولت باید تر یوې کچې ملي او ګډو ګټو ته کار وکړي، نور یې نو د خپلې خوښې ژوند تېرولو په پار د ټرمپ پر ټولو ناکردیو سترګې پټې کړې او ځانونو یې د هغه په پښو کې وغورځول.
ټرمپ هم د ماشومانو په څېر، د نړۍ د یوه پیاوړي او نړیوال قدرت له مهمو سیاستونو سره د لوبو د وسایلو په ډول لوبې پیل کړې.
هغه ان یوه ورځ هم داسې ونه ښوده چې د ټول هېواد ولسمشر دی، بلکې موږ یې د نژاد، جنس، مذهب، زده کړو او سیمې پر اساس د یو او بل پر وړاندې ودرولو. د هغه د حکومتولۍ اصلي وسیله دروغ ویل وو او په دې سره هڅه کوي چې امریکایان دوکه کړي.
ټرمپ هغه فدرال حکومت فلج کړ چې له کلونو راپه دې خوا د ښي اړخو او سیاسي طبقو تر ایډیالوژیک هجوم لاندې و. هغه د دندو په رامنځته کولو کې پاتې راغی او دغه راز یې مدني او حرفه یي خدماتو ته هم د پای ټکی کېښود. هغه د خپلو شخصي ګټو لپاره تر ټولو باتجربه او بااستعداده کسان له دندو لرې کړل، هغه د مالیاتو د نوي قانون پر مټ بډایو شرکتونو او کمپنیو ته په میلیاردونو ډالره ګټه ورسوله، خو له بلې خوا به یې په پرله پسې ډول د فساد پر وړاندې د دروغو مبارزې چیغې وهلې.
کرونا ویروس داسې مهال امریکا ته مخه کړه، چې پرمختللي ښارونه د کاګرانو له طبقې ډک دي، په ښارونو کې د مدېرنې نړۍ پر خلاف خلک د پاشلتیا په حال کې دي، په ټولنیزو رسنیو کې هم د دولت پر وړاندې د خلکو نفرت ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی، په اقتصادي برخه کې هم بېکاري په بې ساري ډول د زیاتېدو په حال کې ده او ټوله پانګه د څو محدودو کسانو په لاس کې ده، په واشنګټن کې هم یو خالي حکومت د ناکام رهبر او ماتې خوړلي حزب له لوري چلېږي، دغه راز د راتلونکي په اړه هم هره ورځ د خلکو په ذهن کې نوي او ناخوښ تصویرونه رامنځته کېږي او خلک د یوه بد راتلونکي لپاره شېبې شماري.
که کرونا وبا یوه جګړه وي، نو دا په تېرې نیمې پېړۍ کې لومړنۍ جګړه ده چې د امریکا له ناوړه وضعیت او ماتو پرده پورته کوي، د یوې ناکامې ټولنې اصلي څېره په ډاګه کوي او د خوسا شوې ټولنې بدبوي پورته کوي.
ویروس باید امریکایان د یوه ګډ تهدید پر وړاندې سره متحد کړي، دغه څه ممکن دي، خو په متفاوته رهبرۍ سره، نه د اوسنۍ رهبرۍ تر چتر لاندې. خو د دې پرځای، کله چې کیسه او تهدید سرې کرښې ته ورسېد، بیا هم له دغه څه سره تر ډېره حزبي او سیاسي برخورد وشو. د ویروس له پیل سره سم د روغتیایي او نورو خدماتو د رسولو په برخه کې نابرابري هم په ډېرېدو شوه. د دې پرځای چې ټولو ته د انسان په سترګه وکتل شي، د ښو او بدو تفکیک پکې پیل شو. هغه مهال چې د ویروس تېښت نور له کنټروله ووتو، بیا هم روغتیایي توکي او وسایل د ولسمشر او د هغه د محافظه کارو متحدینو په خدمت کې وو. دغه وسایل ان د داسې کسانو په واک او خدمت کې ورکړل شول، چې اصلاً د دغه ویروس نښې یې نه درلودې. په فردي ډول دغو هڅو له عمومي روغتیایي وضعیت سره هېڅ ډول مرسته ونه کړه. په مقابل کې یې پر دغه ویروس اخته کسان مجبور وو چې په لړزېدونکي ځان سره د روغتیایي خدماتو او د ټېسټ د مالومېدو په پار په اوږدو لیکو او کتارونو کې درېدلي وي. په انټرنېټ کې یوه ټوکه ډېره کارته او پورته کېده چې تاسو یوازې هغه مهال پوهېږئ چې ویروس نیولي یی، چې د یوه بډایه کس په مخ کې وپرنجېږئ.
کله چې له ټرمپ څخه د دغو ټولو بې عدالتیو په اړه پوښتنه وشوه، نو دغه موضوع یې رد کړه، خو ویې ویل: «ښایي د ژوند داستان له همداسې و». په داسې حال کې چې کرونا ویروس په امریکا کې عام خلک له سختو ستونزو سره مخ کړي، خو د شتمنو کسانو لپاره بیا هر ډول اسانتیاوې شته او په ډېرې اسانۍ سره ان له نظامي خدماتو او پرمختللو ماسکونو څخه هم ګټه اخیستلی شي. د ویروس له پراختیا سره سم د دغه هېواد اوسېدونکي د نړۍ تر ټولو بېوزله او لوېدلي ښکارېدل، د روغتیایي خداماتو په برخه کې نابرابري همدا اوس هم په روغتونو کې له ورایه څرګندېږي.
په امریکا کې همدا اوس د روغتیاي خدماتو اړخه خلک په دوو ډلو وېشل شوي دي؛ یوه ډله یې مهم او بله ډله یې غیر مهم کسان دي. مهم کسان، د سوپرمارکېټونو، کمپنیو او نورو سوداګریزو چارو کاروباریان دي. دوی ته تر ټولو غوره خدماتو وړاندې کړې، ان له دستکش نیولې بیا تر سني ټایزر او د مکروب ضد درملو پورې یې هرڅه په لوړ ستېنډرډ دي، خو بله ډله چې پکې د روغتونو کارکوونکي، کارګران، موټر چلوونکي او معمولاً د ټیټ عاید لرونکي کسان دي، د خدماتو له اړخه تر ټولو وروسته پاتې او محرومه طبقه ده.
د ټرمپ کورنۍ او خپلوان تر ټولو امریکایانو غوره کسان دي، ټول خدامات یې په واک دي، خو د ټیټ عاید لرونکي امریکایان بیا د غلامانو په څېر ژوند کوي، ان خپل حقونه یې هم نه شي ترلاسه کوی، یا نه ورکول کېږي.
د اوسني وضعیت دوام، د روغتیایي سیستم ښه والی او د نوي او متعادل سیستم رامنځته کېدل یوازې د اوسني حالت او سختیو په تحمل سره بدلون نه مومي. دغه زموږ د اوسنۍ رهبرۍ تر چتر لاندې به هېڅ شی تغیر ونه کړي، ان شته شیان به مو هم له لاسه ووځي. که د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۸ ز کلونو پېښو خلک له سیاسیونو زړه توري کړل، ۲۰۲۰ ز کال به هر څه ګډوډ او پر سیند لاهو کړي.
**پای**

# هند ته د طالبانو بې مخینې ډاډ؛

## سهیل شاهین: د هند په ګډون له ټولو ګاونډیانو سره ښې اړیکې غواړو



په وروستیو ورځو کې زلمي خلیلزاد، پاکستان، قطر او هند ته سفرونه درلودل. په دغو سفرونو کې تر ټولو ډېر تمرکز له طالبانو سره د سولې پر هوکړې او همدا راز د هند او طالبانو پر اړیکو و. امریکا ظاهراً هڅه کوي د طالبانو او هند ترمنځ اړیکې ښې شي؛ ځکه هند د طالبانو له اړخه اندېښنه لري او دغه ډله د پاکستان نږدې ملګرې بولي. بلخوا بیا طالبانو په تازه څرګندونو کې ویلي چې د هند په ګډون د سیمې له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي. د دوی په خبره، ان په افغانستان کې د هند له رغنیزو پروژو ملاتړ هم کوي.
هند تل په افغانستان کې د طالبانو پر وړاندې ښکاره دریځ لرلی دی، دغه ډله ترهګره بولي او وایي چې باید له افغان حکومت سره سوله وکړي. تازه امریکا دا هڅه پیل کړې چې د هند او طالبانو ترمنځ اړیکې ښې کړي. هند په دې وېره کې دی چې طالبان به له پاکستان سره ښې اړیکې ولري او ښايي له دې امله په افغانستان کې د هند حضور ته زیان ورسوي. له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي له دې هندو ورځپاڼې سره په خبرو کې ویلي چې هند دې خپلې اندېښنې مخامخ له طالبانو سره شریکې کړي. خلیلزاد ویلي وو، د دې وخت دی چې هند د افغانستان د سولې په مسئله کې فعال رول ترسره کړي او خپلې ټولې اندېښنې له طالبانو سره د خبرو له لارې رفع کړي.
د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي دغه راز دا هم ویلي وو چې هند یې په سیمه کې باوري او د ډاډ وړ ملګری دی، له همدې امله هڅه کوي دغه هېواد د افغانستان په سوله کې له دوی سره همکاري وکړي. نوموړي پر هندي چارواکو دا غږ هم کړی چې د افغانستان په بیارغونه او پرمختګ کې خپلې هڅې تر پخوا ډېرې کړي.
له دې څرګندونو وروسته طالبانو هم ویلي چې له هند سره د ښو اړیکو غوښتونکي دي. د وسله والو طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین وایي، طالبان د هند په ګډون له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکي دي. د ده په خبره، له هند سره هم ښې اړیکې غواړي او ان په افغانستان کې د دغه هېواد له رغنیزو پروژو ملاتړ کوي. سهیل شاهین وایي، افغانستان بیارغونې ته اړتیا لري او په دې برخه کې د هند له فعالیتونو او کړنو ملاتړ هم کوي.
هند ته خلیلزاد له سفر سره هر ځل دا ګنګوسې هم خپرېږي چې ګواکې امریکا له هند افغانستان ته د سرتېرو لېږل غواړي، خو دا ځل خلیلزاد په یوه مرکه کې ویلي چې له هند سره یې په خبرو کې د سرتېرو د لېږلو په تړاو هېڅ راز خبرې نه دي کړې. د ده په وینا، هند ته یې د سفر تر ټولو مهمه موخه دا وه چې دغه هېواد په افغان سوله کې لا ډېر فعال رول ادا کړي او د افغانستان په بیارغونه کې خپله همکاري ډېره کړي. د ده په خبره: ((افغانستان او هند تاریخي اړیکې لري. د سرتېرو د لېږلو په تړاو موږ هېڅ راز خبرې نه دي کړې، خو له هندي لوري مې غوښتي چې د افغان سولې په مسئله کې لا ډېر فعال رول ادا کړي)).
له دې سره جوخت د پرېنټ په نامه یوه نشریه په خپله یوه مقاله کې لیکي چې هند به هېڅ وخت له طالبانو سره مخامخ خبرې ونه کړي. د سرچینې په خبره، هندي چارواکو په ځلونو په خپلو خبرو کې ویلي چې دوی په افغانستان کې له ولسواک نظام ملاتړ کوي او له طالبانو سره به هم هغه وخت اړیکې پالي چې د بین الافغاني خبرو لار خپله کړي او له افغان حکومت سره یو ځای شي. د دې نشریې په مطلب کې راغلي چې هند طالبانو ته د ترهګرې ډلې په سترګه ګوري، نو هېڅ وخت به د امریکا په غوښتنه خپل دریځ بدل نه کړي.

# پامپیو: په ټول توان به هڅه وکړو چې پر ایران د وسلو د پلورلو د بندیز موده وغځول شي


امریکایي چارواکي وایي، هغه بندیزونه به نور هم وغځوي چې له مخې یې ایران نه پرېږدي چې له نړیوالو وسلې وپېري.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، هغه بندیزونه چې پر ایران د ۲۰۱۸ ز کال د مۍ له میاشتې وروسته بېرته لګول شوي، نه یوازې دا چې د دغه هېواد اقتصاد یې کمزوری کړی، بلکې د تهران مخه یې نیولې چې په سیمه کې ترهګر مالي تمویل او پر وسلو سمبال کړي.
هغه یوځل بیا ژمنه وکړه چې له ټولو امکاناتو به پر ایران د وسلو د پلورلو د بندیز د غځولو لپاره کار واخلي. دا په داسې حال کې ده چې پر ایران د وسلو د پلور د نړیوال بندیز د اعتبار موده د روان میلادي کال په اکتوبر کې پای ته رسېږي.
د یادونې ده چې د امریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۱۸ ز کال د مۍ په اتمه متحده ایالتونه له ایران سره د نړۍ د پیاړو هېوادونو له اټومي تړون څخه وایست.
پامپیو ویلي، له هغې راهیسې متحدو ایالتونو پر ایران داسې پیاوړي بندیزونه لګولي چې په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی او د دغه هېواد مخه یې نیولې چې مېلیاردونه ډالر د تروریستانو په تمویل او د هغوی د وسلو پر سمبالولو ولګوي.
نوموړي دغه راز ویلي چې د امریکا د دغه اقدام په نتیجه کې امریکایان خوندي شوي او منځنی ختیځ هم تر ډېره امن شوی دی.
پامپیو ایران ته په اشارې، یو وار بیا پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې ورسره د هغه رژیم په وړاندې مبارزه کې برخه واخلي چې د ده په وینا په نړۍ کې د یهودانو ضد لوی ملاتړی دی.
وروسته له هغې چې متحده ایالتونه له ایران سره له اټومي تړونه وتلي او پر دغه هېواد یې بېرته بندیزونه لګولي، د دغه هېواد اقتصاد ډېر ځپل شوی دی.
ولسمشر ټرمپ ویلي وو، له دغه تړونه ځکه وځي چې هغه د دغه هېواد د اټومي وسلو او د لرې واټن ویشتونکو توغندیو د پراختیایي پروګرامونو د بندولو لپاره کافي نه دی او پر ایران به فشار راوړي چې د یوه بل تړون لپاره ورسره خبرې وکړي.
خو ایران له دغه کاره ډډه کړې او ټینګار یې کړی چې اټومي پروګرام یې یوازې او یوازې د سوله ییزې انرژۍ هدف تعقیبوي او په تدریجي ډول د شوي تړون له ژمنو په شاه شوی دی.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### څلورم څپرکی




د خلکو خبرو ته په غوږ نیولو دستي پوهېدلای شئ چې هغوی پیسې له کومې لارې ګټلې دي. لا د نهو کلو وم، د هغو خلکو خبرو ته به مې غوږ نیوه چې د کار موندنې په نیت به یې زما شتمن پلار ته انټرویوګانې ورکولې. په دې انټرویوګانو کې به مې د خلکو اصلي ارزښتونو ته غوږ نیوه چې زما د پلار په وینا د دوی په ژبه بیان شوې خبرې ټولې د دوی له داخلي جوهر او ورټیا څخه دي.
د پیسو ګټلو د هر کونج اصلي ارزښت اوس ستاسو په مخکې ږدم.




د E کونج مصئونیت، د S کونج خپلواکي، د B کونج شتمني او د I کونج مالي ازادي.

**لومړی. د E کونج ارزښتونه**

«د مصئونې او ډاډه دندې په لټه یم چې ښه تنخوا او امتیازونه ولري.»
هغه خلک چې په E کونج کې اوسېږي، هغوی ته د دندې «مصئونیت» اصلي ارزښت دی. کېدای شي تاسو د شرکت د اجراییه مرستیال په توګه تر ټولو لوړه تنخوا اخلئ؛ خو ستا او د شرکت د چوکیدار هېڅ توپیر نشته -که څه هم هغه به ستا لسمه برخه تنخوا اخلي. ځکه ستا او د هغه اصلي ارزښت سره شریک دی او هغه دا چې دواړه د دندې مصئونیت غواړئ. په یوه شرکت کې له رییس نیولې تر چوکیدار پورې ټول دغه یو فکر کوي:«د مصئونې او ډاډه دندې په لټه یم چې ښه تنخوا او امتیازونه ولري.» یا «د اضافه کارۍ لپاره به څومره پیسې راکړي؟» او یا دا فکر کوي «څو ورځې رخصتي به لرم؟»
کله چې زه له داسې چا سره خبرې کوم چې په E کونج کې اوسېږي، او په دې اړه خبرې ورسره کوم چې زه غواړم نوي تجارتونه پیل کړم، نو هغه راته وایي:«ښه، ایا دا خطرناک نه دي؟»
موږ هر یو ژوند ته د خپل اصلي ارزښت له زاویې ګورو؛ څه چې موږ ته خوښې ښښونکي وي، نورو ته ډاروونکي وي. په همدې خاطر کله چې زه د E او S کونجونو له اوسېدونکو سره یوځای کېږم، نو د هوا، ورزش او تلویزیوني خپرونو په اړه خبرې ورسره کوم. د تجارت په اړه خبرې نه ورسره کوم.

**دویم. د S کونج ارزښتونه**


«که غواړې یو کار په ښه ډول سرته ورسوې، نو خپله یې وکړه.»
دې خلکو ته اصلي ارزښت «خپلواکي» ده. کله چې یو څوک ووایي:«غواړم کار پرېږدم او ځان ته خپل کار پیل کړم.» دا له E کونج څخه S کونج ته اوښتل دي. دوی د داسې ازادۍ په لټه دي چې څه یې زړه غواړي، هغه وکړي. هغه خلک چې په دې برخه کې کار کوي، د کوچنیو تجارتونو خاوندان مسلکي خلک یا مشاورین دي. مثلاً: زه یو ملګری لرم، هغه د شتمنو خلکو په کورونو کې تلویزیونونه، د تلیفون سیسټم او امنیتي سیسټمونه جوړوي. درې کارګر کار ورسره کوي. هغه په دې ډېر خوشاله دی چې د درېیو کسانو مشري کوي. مسلکي خلک، دلالان، مدافع وکیلان، ډاکټران، ځانګړي محاسبه کوونکي، د بیمې استازي، پلورونکي او ورته نور خلک له دې ډلې څخه دي. اصلاً د دوی کار خورا سخت دی.

**دوام لري...**

# منګولیا

حشمت الله نوري

منګولیا په ختیځه اسیا کې د چین او روسیې ترمنځ د شمالي عرض البلدونو د ۴۲ او ۵۲ درجو او د ختیځو طول البلدونو د ۱۲۰ او ۸۵ درجو ترمنځ پروت هېواد دی. پراخوالی یې ۶۰۹۰۹ کیلو متره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ اوولسم هېواد دی. شمال ته یې روسیه، جنوب ته یې سایبریا، ختیځ او لوېدیځ ته یې د چین ولسي جمهوریت موقعیت لري.
د منګولیا هوا وچه او توده ده. د دغه هېواد جګې سیمې سوړ ژمی لري چې تودوخه یې د سانتیګراد تر منفي ۴۰ درجو هم رسېږي. د دوبي پر مهال یې بیا هوا د سانتیګراد تر ۴۰ درجو پورې رسېږي.
منګولیا په ټوله نړۍ کې د خپل مساحت په پرتله لږ اوسېدونکي لري؛ ځکه چې له یوې خوا د دغه هېواد ختیځې، منځنۍ او جنوب لوېدیځې برخې په غرونو پوښلې دي او له بلې خوا یې د ګوبي او کوبدو په شان سوځنده ډاګونو جنوب ختیځې سیمې نیولې دي. د دې سیمې پراخوالی ۵۰۰ سوه زره کیلومتره مربع دی.
د دغه هېواد پلازمېنه اولبناتور ښار دی، نفوس یې څه باندې ۳ میلیونو کسانو ته رسېږي چې په هره کیلو متره مربع ساحه کې یې درې تنه ژوند کوي. ۷۰ سلنه اوسېدونکي یې په ښارونو کې مېشت دي او پاتې ۳۰ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ یې په ټول عمر کې د دریو ماشومانو د درلودو اجازه لري.
منګولیا د اداري وېش له پلوه په ۲۱ ولایتونو وېشل شوې ده. سان، بیزایورګر، مورن، کوري، کوبدو، اولیاسوتای، نالاییخا، ایون او بیز یې لوی او مهم ښارونه دي. ۹۵ سلنه وګړي یې ژبړ منګول او پاتې نور یې قزاق، چینایي او روسي نژاده دي. رسمي ژبه یې منګولي ده، خو په ترکي، روسي او چینایي ژبو هم پکې خبرې کېږي.
لیکدود یې بیا د ژبړ نژاد یو ډول لیکدود دی چې د مغلي په نامه هم یادېږي. ۵۰ سلنه خلک یې د تبتي بودېزم او پاتې نور یې د شمانیزم او ګډو دینونو پیروان دي.
د منګولیا لومړنی اساسي قانون د ۱۹۲۴ ز کال د نومبر په ۲۴ مه د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد د قانون له مخې جوړ شوی و. دغه قانون لومړی ځل په ۱۹۴۰ز کال او بیا د ۱۹۶۰ ز کال د جون په ۶مه نوی شوی دی. د دغه هېواد اوسنی اساسي قانون د ۱۹۹۲ ز کال د فبروري په ۱۲مه نافذ شوی دی.
په منګولیا کې د ولسمشرۍ کاندیدان د ګوندونو له خوا د خلکو ستر مجلس ته پېژندل کېږي او د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. هغه څوک چې ګوند یا ائتلاف یې اکثریت ولري، د خلکو د ستر مجلس له خوا د لومړي وزیر په توګه غوره کېږي. د منګولیا د کابینې وزیران د خلکو د ستر مجلس له خوا او د ولسمشر په مشوره ګومارل کېږي.
د دغه هېواد د پارلمان ۷۶ غړي د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي او د رایې ورکولو قانوني سن پکې ۱۸ کاله دی.
د منګولیا حقوقي نظام د روسیې، چین او ترکیې پر قوانینو ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضایي ارګان ستره محکمه، د تمیز محکمې په شان کار کوي. منګولیا له سترې محکمې وروسته ولایتي ښاري او سیمه ییزې محکمې او د اساسي قانون د تعبیر او تفسیر محکمه لري.
د منګولیا د خلکو انقلابي ګوند، د منګولیا نوی ټولنپال ولسواک ګوند او د منګولیا جمهوري غوښتونکی ګوند د دغه هېواد لوی او د زیات نفوس لرونکي ګوندونه دي.
یاد هېواد د ۱۹۲۱ ز کال د مارچ په ۱۳ مه له چین څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه، خو د جولای ۱۱مه د خپلواکۍ د ملي ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.
دغه هېواد د ګڼو نړیوالو ادارو ترڅنګ په ۱۹۶۱ ز کال کې د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.
د منګولیا اقتصاد د ۱۹۴۸ ز کال نه تر ۱۹۹۰ ز کلونو د ټولنیزې اقتصادي پراختیا د هغو پنځه کلنو پلانونو په مرسته چې د شوروي اتحاد، چین او نورو سوسیالیستي هېوادونو په مرسته تطبیق کېدل، ډېر ګړندی پرمختګ وکړ او له یوه کرنیز او وروسته پاتې هېواد څخه په پرمختلونکي هېواد بدل شو. کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، پر منګولیا ټولې هغه مرستې بندې شوې چې د دغه هېواد درېیمه برخه ناخالص کورنی تولید یې برابراوه. منګولیا ته د شوروي اتحاد د مرستو بندېدو د دغه هېواد اقتصاد له سختو ستونزو سره مخ کړ، د بهرنیو اسعارو زېرمې لږ شوې، خلکو د اړتیا وړ توکو وارداتو ته اړتیا درلوده، صنعتي تولیدات کم شول او په ځینو خوراکي توکو، لکه، بورې چای، غوښې او اوړو باندې ځېره ولګېده. په دې وخت کې امریکا، جاپان او اروپایي ټولنې له منګولیا سره د غنمو او پیسو مرستې وکړې او دغه هېواد یې د ډېرو سختو شرایطو پر وړاندې په پښو ودراوه.
له دې وروسته د منګولیا نویو حکومتونو د ازاد بازار د اقتصاد تګلاره غوره کړه. په خپلو قوانینو کې یې بدلونونه راوستل او د ازاد مارکېټ اقتصاد د لګښتونو کمولو، د بیو اسانه کنټرول او د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پراختیا ته یې غېږه پرانیستله. د منګولیا ډېری عواید د دولت په عادي لګښتونو خرڅېږي او لږو کورنیو او بهرنیو پانګوالو د دغه هېواد د صنایعو او کانونو په برخه کې پانګونه کړې ده. په ۱۹۹۹ ز کال کې روسیې منګولیا ته د خپلو تېلو او نفتي محصولاتو په صادرولو لنډمهاله بندیز ولګاوه. دغه بندیز د منګولیا د اقتصاد ستونزې نورې هم ډېرې کړې. په ۲۰۰۰ ز کلونو کې وچکالۍ د منګولیا کرنې ته درونډ زیان ورساوه او ډېرشاروي پکې مړه شول. خو د دغه هېواد اقتصاد اوسمهال ښه لور ته روان دی. د منګولیا ناخالصو کورنیو تولیداتو بیه ۱۲ مېلیارده ډالرو او د ناخالص کورني تولید کلنۍ وده یې بیا ۷ سلنه ده. دغه راز د سړي سر کلني عاید کچه ۴۱۵۱ ډالرو ته رسېږي.
برېښنا، د ډېرو سکاره، مس، سره زر، تېل، ساختماني توکي، سمنټ، د غوښې او نورو خوراکي توکو پروسس، بوره، چیني لوښي، چرمي شیان، کېمیاوي توکي، ګوګړ او لاسي صنعت د دغه هېواد په اقتصادي وده کې رغنده رول لوبوي.
د منګولیا یوازې یو سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۸۰ سلنه خاوره څړځایونو



او پاتې نوره ځنګلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د منګولیا ۳۵ سلنه خلک د کرنې او مالدارۍ پر چارو بوخت دي او د دغه هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاسته راځي. غنم، وربشې، کچالو، واښه، چغندر، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د منګولیا مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.
تېل، د ډېرو سکاره، مس، فاسفېټ، نکل، جست او سره زر د دغه هېواد له لویو کاني زېرمو څخه دي. د صادراتو ټوله بیه یې درې مېلیارده ډالره او د وارداتو ټوله بیه څه باندې درې مېلیارده ډاره اټکل شوې ده. روسیه، چین، جاپان، جنوبي کوریا، امریکا او عربي هېوادونه یې لوی سوداګریز شریکان دي.
دغه هېواد له ۱۰۰ ډېرې سوداګریزې بېړۍ او ۴۶ هوایي ډګرونه لري چې ۱۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټیلفون کوډ نمبر یې ۰۰۹۷۶ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې ام اېن دی. دغه راز یو میلیون اوسېدونکي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري. د هغه قانون له مخې چې په کال ۲۰۰۵ ز کال تصویب شو، د منګولیا دولتي راډیو او ټلوېزیون په عامه شبکه بدل شول. اوس په دغه هېواد کې خصوصي راډیوګانې او ټلوېزیونونه هم فعالیت کوي.
مغل د ختیځې آسیا یو مهم قوم دی چې په بېلابېلو طایفو او ژبو وېشل کېږي او دې سیمې ته کوچېدلي. دوی تر ډېره کوچیاني ژوند درلود او له خپلو سترو رمو سره به له یوې شنې سیمې څخه بلې سیمې ته کوچېدل. په مغلو کې دا دود و چې تر ټولو ځواکمنې طایفې به په شاوخوا سیمو او خلکو واکمني کوله، لښکر به یې جوړاوه او جګړې به یې کولې. مورخین لیکي چې د شیونګ نایاهون قومونه له میلاد څخه کابو څلور سوه کاله مخکې د سلنګا په دره کې چې سایبریا د اسیا له زړه سره نښلوي، مېشت شوي دي.
د۱۹۹۰ ز کال په جنوري کې د منګولیا ولسواک ګوند جوړ شو او د هېواد ستر مجلس په اساسي قانون کې بدلونونه تصویب کړل. په ۱۹۹۱ ز کال کې لومړي وزیر داشیون خپله اقتصادي تګلاره اعلان کړه او هڅه یې وکړه چې بهرني پانګوال خپل هېواد ته راوبولي. په ۱۹۹۲ ز کال کې بیا د منګولیا په اساسي قانون کې بدلونونه راغلل، د هېواد له نامه څخه د خلکو توری لرې شو او روسي عسکر له دغه هېواد څخه په بشپړه توګه ووتل.
په ۱۹۲۶ز کال کې په کابل او اولنباتور کې د افغانستان او منګولیا تر منځ د نااستوګنو سیاسي اړیکو د جوړېدو اعلامیه خپره شوه او په بیجېنګ کې د افغانستان سفیر شعیب مسکینیار ته دنده ورکړل شوه چې په اولنباتور کې د افغانستان د نااستوګن سفارت دندې پر غاړه واخلي.
له افغانستان څخه تر منګولیا پورې د هوا له لارې فاصله ۳۳۴۸ کیلومترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او اولنباتور ښارونو ترمنځ زماني توپیر هم درې نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۱۰ |
| € | ۸۱،۷۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰،۵۰ |
| £ | ۹۲ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

همياني

# د «استقامت، مبارزې او بريا» کتاب په اړه څو خبرې

ژباړه: حميدالله حميدي



پند لرونکي جملې، پخواني متلونه، کليوالي داستانونه او افساني هغه شتمني ده چې له يوه نسل څخه بل نسل ته لېږدول کېږي او موږ پرته له دې چې يو د بل رنګ، مليت، مذهب او قومي پولې په پام کې ونيسو، يو له بل سره مو وصلوي. يا دا چې دغه داستانونه مختلفي موضوعګانې لري او هره يوه يې زموږ لپاره يوه سر لاره او بېلګه ده.

د دغو پخوانيو او پند لرونکو کيسو تولېز مفهوم څه دی؟ زموږ د ډېرو لپاره دا کيسې د نورو له تجربو څخه د ګټې اخيستلو او په خپل ژوند کې د دغو تجربو د کارولو په مانا دي. سکاټلنډي ليکوال «ساموېل اسمايلز» د برياليتوب په اړه خپل لومړنی کتاب په ۱۸۵۹ ز کال کې خپور کړ. دغه کتاب چې ځانګړی نوم يې «له ځان سره مرسته کول» وو، د «ناپيليون هېل» او «اوريسون سوت ماردن» لپاره يې د دې زمينه برابره کړه، څو په دې برخه کې ليکنې وکړي او له همدې لارې د خلکو ذهنيت د بريا لور ته وهخوي. ناپيليون هېل د برياليتوب د خوځښت بنسټګر او د همدې برخې يو نوموتی ليکوال دی. هغه د برياليتوب د جامع او هر اړخيزې فلسفې په تړاو ګڼ کتابونه ليکلي دي. نوموړي وروسته له هغې دا کار پيل کړ چې له ځان سره د مرستې کولو په اړه يې د مشهورو او غوره بېلګو، لکه اندرو کارنګي، توماس اېډيسن، هنري فورډ... د ژوند په اړه مطالعې تر سره کړې. دا هغه کسان وو چې په مختلفو لارو او وسايلو سره يې وکولای شول خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره يو له بل سره ورته رسالت په پوره برياليتوب سره سرته ورسوي.

د وروستيو ۱۵۰ کلونو په اوږدو کې د برياليتوب د لارې فيلسوفانو او پوهانو دا ثابته کړه چې د ټولو لويو او کوچنيو برياوو اساسي او بنسټيزه کلي له «استقامت او مبارزې» پرته بل څه نه دي. همدا استقامت او مبارزه وه چې «جورج ګوتالز» ته يې د دې توان ورکړ، څو د «پانامې کانال» له ځلونو ناکامۍ وروسته له سره جوړ کړي او پر خپلو پښو يې ودروي. همدغه استقامت او مبارزه وه چې اډيسن ته يې د دې توان ورکړ، چې برېښنايي ګروپ اختراع کړي. همدغه استقامت او مبارزه وه چې «ابراهام لېنکلن» ته يې انګېزه ورکړه چې له بيا بيا ماتو، کاري ناکاميو او په ټاکنو کې له اته ځله ماتې سره سره، وکولای شي چې د امريکا ولسمشر شي.

ناپيليون هېل ليکي: «د هغه لاملونو له ډلې څخه چې ډېرى بريالي کسان تر ځلوېښت کلنۍ مخکې برياليتوب ته نه رسېږي، يو دا دی چې دوی بايد په ژوند کې له ګڼو ماتو او ځورېدنو سره مخ شي، ګڼ خنډونه له منځه يوسي او د اړينې پوهې او تجربې له لاسته راوړلو وروسته برياليتوب او شتمني ترلاسه کړي».

پر دې اساس، يوازې هغه کسان کولای شي په تاريخ کې خپل نوم ثبت کړي چې استقامت او مبارزه ولري او له ماتو څخه د وېرېدو پر ځای ترې درس او زده کړه ترلاسه کړي.

کله مې چې د استقامت او مبارزې کتاب لوست، د هغه ماشوم په فکر کې شوم چې پنځوس کاله مخکې مې پېژانده. نوم يې «سکاټ شاور» وو. هغه زما د ماشومتوب د لوبو ملګری و او کېدای شي چې د نړۍ د کرکجنو ماشومانو له ډلې څخه و. يوه ورځ زموږ تېرې او زياتې خبرې زموږ تر منځ د دعوې او شخړې لامل شوې. په شاوخوا کې زموږ د خلاصون لپاره هېڅوک نه وو، نو تر هغه مو چې په وس او توان کې وو، شخړه مو وکړه. زه له هغه څخه يو څه لوی او پياوړی وم او تر هغه مې چې کولای شوای، وهل مې ورکړل! خو هر ځل به چې سکاټ پر ځمکه ولوېد، بيا به را پورته کېده او پر ما به يې حمله کوله.

شونډې يې وينې شوې وې، پر مخ يې اوښکې روانې وې او جامې يې هم شکېدلې وې، خو له دې هر څه سربېره يې بيا هم د غبرګون ښودلو هڅه کوله. د هغه غوسه تر بل هر ځل زياتېده او له ځمکې څخه به راپورته کېده. کله چې د وروستي ځل لپاره له ځمکې را پورته شو، لاس مې ورکړ او ورته ومې ويل: «سکاټه، تا وګټله!» هغه ماته وکتل، تندی يې وغوړېد او لاس يې راکړ. موږ تر څو تېرو کلونو پورې يو د بل نږدې ملګري وو.


د استقامت او مبارزې کتاب د سکاټ په څېر کسانو له ګڼو کيسو ډک دی. د هغو نارينه او ښځو له کيسو ډک دی چې ماتو ته نه دي تسليم شوي. دغه کتاب ډېر جذاب دی او د ناپيليون هېل بنسټ د نورو کتابونو پر سبک ولاړ ليکل شوی دی. دا کتاب د ګڼو نورو په څېر له ځانه سره ساده توب، جذابيت او مثبت فکر لېږدوي او د هغه کسانو د داستانونو په درلودلو سره چې په غوره بڼه يې زموږ نړۍ ته بدلون ورکړی، زموږ لپاره د ژور او ګټور فکر کولو انګېزه او اجازه راکوي. دغه کسان هغه رهبران دي چې د برياليتوب پر لور يې ځانګړې او لارښود لاره پرانيستې ده چې موږ هم کولای شو همدغه مسير وڅارو او بريا ته ورسېږو. کېدای شي زموږ موخې د هغوی له موخو سره توپير ولري او يا زموږ ماتې د هغوی له ماتو او ناکاميو سره هېڅ ورته والی ونه لري، خو د هغوی د ژوند طرز او تګلاره زموږ لپاره بېلګه او الهام بښونکې ده. د هغوی د تګلارو په څارلو او عملي کولو سره کولای شو چې د خپلې بريا او لاسته راوړنو پر لور ګام واخلو.

دغه کتاب د برياليتوب په اړه ثابت شوي اصول او قوانين بيانوي. هغه اصول او لارښوونې چې پوهانو او مشهورو کسانو تجربه کړې او د خپل ژوند له لوړو ژورو څخه يې د قيمتي ډېرو په څېر يو يو را ټول کړې دي. د دغو خلکو د ژوند داستان موږ ته را زده کوي چې که خپلو ټاکلو موخو ته د استقامت او مبارزې له لارې د عمل جامه ور واغوندو، له شک پرته چې لويه او نه ماتېدونکې بريا زموږ په برخه ده. دغه لارښوونې او داستانونه موږ ته را زده کوي چې ماتې او ناکامۍ بايد برياليتوب ته د رسېدو لپاره د نوو فرصتونو او لارو په مانا تعبير کړو.

دغه کتاب د يو بريالي ژوند درلودلو لپاره هغه ځلېدونکې کلي ده چې اړينه ده د کتابونو له منځه يې را واخلو، ويې لولو او بيا يې هم ولولو. دا کتاب همغه پياوړې معجزه ده چې له موخو څخه لاس اخيستل او لاس په سر کېدل مو بريا ته د رسېدلو پر هيله او ارزو بدلوي. که غواړې پوه شې چې ولې ناپيليون هېل وايي چې: «ډېرى لويو او بريالیو کسانو خپله بريا له ماتې او ناکامۍ څخه يوه مرحله وروسته لاسته راوړې ده.» نو دغه کتاب ولولئ.

خلاصه دا چې که غواړې رښتينې بريا لاسته راوړې، د لوی انسان کېدو لپاره اړينې لارښوونې خپلې کړې، پر خپلو موخو تمرکز وکړې او بريا ته د رسېدو لپاره له ځان سره پياوړې ژمنه وکړې، اړينه ده چې يو بالښت تر سر لاندې کېږدې، پښې مو پر دېوال تکيه کړئ، دغه کتاب را واخلئ او يو ځل بيا يې په پوره غور سره ولولئ. بريا ستاسو په تمه ده.

# منيب: روان وضعيت ته په کتو، ښايي سږکال د حج مراسم ترسره نه شي



د افغانستان د حج او اوقافو وزارت وايي چې دوی تر اوسه هېڅ قراردادونه نه دي کړي او سږ کال د حج د فريضې ادا کولو امکان ډېر کم دی.

د افغانستان د حج او اوقافو وزارت سرپرست وزير عبدالحکيم منيب پژواک خبري اژانس ته ويلي، تراوسه د سعودي حکومت له خوا د دغه وزارت تدارکاتي پلاوی نه دی منل شوی او هغوی ته وېزې هم نه دي ورکړل شوې.

هغه زياته کړه:« غالبا دغه وضعيت ته په کتلو سره سږکال حج نه کيږي، البته که يو ناڅاپه د سعودي حکومت غږ وکړ، نو موږ به خپل ټول امکانات په کار واچوو، څو خپل حاجيان د حج مراسمو لپاره آماده کړو».

دده په وينا، سږ کال د حج مراسمو لپاره تر اوسه هېڅ ډول قرارداد نه دی شوی. په ورته وخت کې د اريانا افغان هوايي شرکت مشر عالم شاه ابراهيمي هم ويلي، چې تراوسه د حج او اوقافو وزارت له خوا د حج مراسمو ترسره کېدو په اړه له دوی سره خبرې نه دي شوي، خو دوی ورته پوره چمتووالی لري.

ده زياته کړې:« سږ کال د حاجيانو د لېږد قراردادونه ټول اريانا افغان هوايي شرکت ته ورکړل شوي او څو ورځې مخکې موږ د تدارکاتو له ملي ادارې سره په دې اړه په يوه ناسته کې خبرې وکړې، خو په قرارداد کې يو شرط زيات شوی چې که د حج مراسم ترسره نه شول، دواړه طرفين به يو بل ته مکلفيت ونه لري».

د ده په وينا, که سږ کال د حج مراسم ترسره شي، دوی ورته پوره چمتوالی لري. بلخوا د ملي تدارکاتو ادارې مشر عمر الهام هوتکي ويلي، چې د تدارکاتو ملي ادارې د حج مراسمو اړوند ټول قراردادونه په دې شرط کړي، که د حج مراسم ترسره شي، نو هغوی به خپل چمتووالی ونيسي.

ده زياته کړې: «که د سعودي عربستان حکومت ناوخته د حج مراسمو ترسره کېدو په اړه پرېکړه وکړي، نو قراردادیان به ونه شي کړای چې پوره چمتووالی ونيسي؛ ځکه د هغوی کارونه هم ډېر زيات کار ته اړتيا لري».

ده زياته کړې، کوم معلومات چې دوی د سعودي له حکومت څخه لري، نو سږ کال به د حج مراسم نه ترسره کېږي او تراوسه د سعودي حکومت هم د دغو مراسمو ترسره کېدو لپاره هېڅ ډول چمتووالی نه لري.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبرياﻻن: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily








دوشنبه د ۱۳۹۹ د غویي ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د مې ۱۱مه | ۵۳۸ گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۲۸ | ۳٤ | ۳۳ | ۳٤ | ۲۸ |
| ۱۳ | ۱۳ | ۲۱ | ۱۹ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۷ | لمر ختل ۰٤:٥٤ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیگر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:۵۰ | ماخوستن ۰۸:۲٤

دوشنبه ۱۳۹۹/۲/۲۲

د سهار اذان ۰۳:۱۷ د ماښام اذان ۰٦:۵۰

رمضان کریم

## نړۍ




## مقامات امنیتی: طالبان زیر پوشش توافق نامهٔ صلح با امریکا برای جنگ آماده گی می گیرند

مقام های امنیتی می گویند که طالبان زیر پوشش توافق نامه صلح آنان باامریکا، در صدد آماده گی برای جنگ می باشند و هیچ نشانه ای درعملکرد این گروه که بیانگر پابندی آنها برای صلح باشد، دیده نمی شود. مشرانو جرگه دیروز احمد ضیاء سراج سرپرست ریاست عمومی امنیت ملی، مسعود اندرابی سرپرست وزارت امور داخله و محمد یاسین ضیاء معاون اول وزارت دفاع ملی را به نشست این جرگه فرا خواند تا در مورد افزایش نا امنی ها و تلفات نیروهای امنیتی در کشور معلومات ارایه کنند.

احمد ضیاء سراج سرپرست ریاست عمومی امنیت ملی در این نشست گفت که پس از امضای توافق نامه صلح میان طالبان و ایالات متحده امریکا هیچ نشانه ای تغییر در عملکرد گروه طالبان دیده نمی شود و این گروه پابند به صلح نمی باشد.

وی افزود: «این گروه در فکر این است که زندانیان شان رها شوند و آماده گی برای جنگ در مقابل نیروهای امنیتی بگیرند و از طریق جنگ به قدرت برسند».

به گفته او، طالبان از اول حمل سال جاری تا پانزده هم ثور ۲۲۷۷ عملیات را در ۳۳ ولایت راه اندازی نموده، اما به اهداف شان نرسیده و در این مدت ۱۵۰۰ تن آنها کشته شده اند.

مسعود اندرابی سرپرست وزارت امور داخله نیز گفت که طالبان آماده گی برای جنگ دارند، اما نیروهای امنیتی و دفاعی اجازه نمی دهند که برنامه های شان را عملی کنند. محمد یاسین ضیاء معاون اول وزارت دفاع ملی نیز گفت که مخالفین مسلح دولت بعد از هفته کاهش خشونت ها به حملات شان شدت بخشیده اند و نیروهای امنیتی و دفاعی کشور نیز در حالت «مدافع فعال» قرار دارد.

## اوباما: له کرونا ویروس سره د ټرمپ اوسنۍ ناکامه تګلاره به امریکا ته ناوړه پایلې ولري



د امریکا پخواني ولسمشر باراک اوباما خبرداری ورکړی چې له کرونا ویروس سره د ټرمپ د مبارزې اوسنۍ تګلاره به امریکا ته ناوړه پایلې ولري. ډیلي مېل نشریې د اوباما له خولې ویلي، ټرمپ د امریکایانو په منځ کې د نفاق اچولو په هڅه کې دی او دې چارې په دغه هېواد کې له کرونا ویروس سره د ګډې مبارزې په مخ کې خنډونه رامنځته کړي دي.

هغه یوځل بیا پر ټرمپ غږ کړی چې په نړیواله کچه دې د امریکا هویت ته زیان نه رسوي او په خبره یې، د تبعیضي چلند او ناغېړیو پرځای کې دې له دغه ویروس سره چې امریکا یې له جدي ګواښ سره مخ کړې، مبارزه وکړي.

نوموړي دغه راز د امریکا د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو له نوماند جوبایډن څخه خپل ملاتړ ثرګند کړی او ډاډ یې ښودلی چې نوموړی به د امریکا اوسنی له ګواښ سره مخ حیثیت بېرته خپل حالت ته راوګرځوي. د اوباما دا څرګندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې هم یو شمېر امریکایانو او په ځانګړې توګه د دغه هېواد سیاسیونو له کرونا ویروس سره د ټرمپ پر ناکامې مبارزې سختې نیوکې کړې او هغه یې پر دې تورن کړی چې له دغه ویروس سره یې د مبارزې پرځای سیاسي چلند غوره کړی دی. د یادونې ده چې په ټوله نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له څلورو میلیونو واوښت او د دغه ویروس له کبله تر دې دمه له ۲۸۲ زرو ډېر کسان مړه شوي چې امریکا یې په سر کې ځای لري.

## جوزپ بورل: اروپايي ټولنه له چین سره خپلو مثبتو اړیکو ته دوام ورکوي

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مسوول جوزپ بورل ویلي، چې له چین سره خپلو مثبتو اړیکو ته دوام ورکوي.

نوموړي د واشنګټن او بیجېنګ ترمنځ وروستیو ناندریو ته په اشارې ویلي: «موږ له چین سره مثبتې اړیکې لرو او غواړم چې دا اړیکې نورې هم پراخې کړو. زما دنده د دغو اړیکو ساتل او پراختیا ده».

بورل زیاته کړې چې اروپايي ټولنه چین ته د سیستماتیک سیال په سترګه نه ګوري او غواړي چې له دغه هېواد سره خپله همکاري نوره هم پراخه کړي.

هغه له امریکا او ډونالډ ټرمپ سره د اروپايي ټولنې اړیکو ته په اشارې ویلي: «موږ له ډونالډ ټرمپ سره اړیکې نه لرو، موږ له امریکا سره اړیکې لرو، زموږ اړیکې سازماني دي، نه شخصي».

د اروپايي ټولنې دغه چارواکي پر هېوادونو هم غږ کړی چې د کرونا ویروس له کبله د رامنځته شوي بحران پر وړاندې په ګډه مبارزه وکړي. هغه ویلي، اوس د دې وخت نه دی چې هېوادونه د کرونا ویروس له کبله یو او بل ملامت کړي، بلکې د دې پرځای باید یو او بل ته لاس ورکړل شي.

## ژوند

## په روژه ماتي کې دغه خواړه ګټور دي



روژه‌ماتی هغه وخت دی چې د ورځې په اوږدو کې له لاسه وتلې انرژي باید بېرته پکې ترلاسه کړئ. هغه خواړه چې په دې وخت کې یې خورئ، باید د بدن د اړتیا وړ ټول مواد، لکه مېوې، سبزۍ، وریجې او د وریجو د کورنۍ نور ډولونه، غوښه او د لبنیاتو بېلا بېل ډولونه پکې وي. کېدای شي ډېری خلک په پوره توګه دغه ډول خوړو ته لاسرسی ونه لري، خو بیا هم باید هڅه وشي، چې لږ تر لږه په روژه‌ماتي باندې یو واحد مېوه، یو څه سبزي او نور اړین خوراکونه را پیدا کړي چې خپله روغتیا یې تضمین کړې وي؛ ځکه که انسان روغ وي، هر څه کولی شي. تر هر څه وړاندې باید خپلې روغتیا ته پام وشي. هڅه وکړئ په روژه‌ماتي او پشلمي دواړو کې د غوړیو کچه را کمه کړئ. له داسې غړیو څخه ګټه اخلئ چې اشباع شوي نه وي، لکه د سویا او کانولا غوړي.

## ماشومان مو کتابتون ته در سره بوځئ!

کتابتونونو ته د ماشومانو بېول مو له کتابتون سره د ماشومانو مینه زیاتوي. خپلو ماشومانو ته یوازې د هغوی د خوښې کتاب راوړی او د ذوق احترام یې وکړئ، ډاډه اوسئ، هغه څه چې دوی یې د ځان لپاره خپله ټاکي، د دې سبب ګرځي چې له کتاب لوستلو سره مینه پیدا کړي، خو یوځه ته مو باید پام وي، دوی ته داسې کتاب راوړی چې اړوند توکي پکې د دوی له سن سره برابر، ګټور او داسې څه پکې نه وي چې پر دوی بد اغېز وکړي. که یې بیا هم غوښتنه وه، دغه چاره داسې مدیریت کړئ چې ماشوم مو د کتاب له لوستلو زړه توری نه شي او په پایله کې د بل کتاب د اخیستو غوښتنه وکړي. ډېری وخت



ماشومان غواړي چې یو کتاب یې په خپل نوم وي او دا احساس کړي چې ګواکې دغه کتاب د ده خپل مال دی.